مصطفی پسرلی ٢٠١٩/٠٥/٠٨

# غزل

ستا انتظار مې تر سهار کړی دی
درد مې په زړه باندې ګزار کړی دی

ستا په رنجو دا تورې سترګې مې خوري
خدای خبر چا راته ازار کړی دی

ما د شرابو پيالې نه غوښتلې
نن مجبوری پر ما خمار کړی دی

اوس په جنون او سمون نه پوهیږم
بېلتون زړګي کې لوی پرهار کړی دی

هوس او وهم مې په زړه کې نشته
ما ستا په مینه پوخ اعتبار کړی دی

پسرليه! ژوبل روح کرار نه مومي
درمان زخمونو نه انکار کړی دی

مصطفی پسرلی
07/05/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ